مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۲/۲۸

# وهابیان څوک دي؟

دريمه برخه

## نفاق په اسلام کې:

مسلمانان، د خپل عظمت او فتوحاتو په لومړيو کلونو کې، په داخل کې، له اختلافاتو سره مخامخ سول. که څه هم چې د اسلام کمزوری کېدل ډېر زيات نور دلايل هم لري خو سرې ويلای سي چي داخلي بې اتفاقي يې د کمزوري کېدلو تر ټولو لوی عامل وو.

د حضرت رسول اکرم ص له وفات سره سم، لومړنی اختلاف د مهاجرو او انصارو ترمنځ هغه وخت څرګند سو چي ابوبکر او عمر فاروق غوښتل د مسلمانانو لپاره يو مشر وټاکي او په دغه وخت کي خبر ورته ورسېدی چي انصار د مديني د سقيفه بنی ساعده په سيمه کي را ټول سوي او د خپلي خوا د مشر د ټاکلو ادعا لري. د مديني اکثريت انصارو د خزرج د قبيلي د مشر سعد بن عباده د مشرتوب طرفداران ول. سعد بن عباده وروسته وويل چي که خليفه د مهاجرو له خوا ټاکل کيږي نو وزارت بايد د انصارو وي. عمرفاروق د دوی ادعا ونه منله او ابوبکر صديق ته يې بيعت وکړ. د هغه په تعقيب په مجلس کي ناستو کسانو، يو په بل پسي ابوبکرصديق ته بيعت وکړ خو سعد بن عباده نه ابوبکر او نه عمرفاروق ته بيعت وکړ. سعد بن عباده، د حضرت عمر د خلافت په لومړي کال، غوښتل چي له مديني څخه شام ته ولاړ سي خو د مديني په شاوخوا کي، د ۵۶ کالو په عمر، د خالد بن وليد له خوا ووژل سو؛ او په دي توګه هغه جنجال چي ښايي، د خلافت پرسر د مهاجرو او انصارو تر منځ، په فتنه بدل سوی وای ختم سو.

حضرت رسول اکرم ص پوهېدی چي د هغه له وفات څخه وروسته به د مسلمانانو ترمنځ عقيدوي او شخصي اختلافات منځته راځي؛ ځکه يې نو د يووالي پر ساتلو باندي تر هر څه زيات ټينګارکاوه. حضرت رسول اکرم ص يو وخت ويلي وه چي زما څخه وروسته به په مسلمانانو کي، د يهودو او عيسويانو په څېر، اختلافات او مذهبي فرقي منځته راسي او اسلمي امت به پر ۷۳ فرقو ووېشل سي. په دي ۷۳ فرقو کي به يوازي يوه فرقه جنت ته ځي او نور به ټول دوږخ ته روان وي. حضرت رسول اکرم ص ويلي وه چي يوازي هغه فرقه به جنت ته ځي چي مستقيماً زما لاره غوره کړي. البته شهرستاني، چي څه باندي ۱۰۰۰ کاله مخکي يې ژوند کړی دی ليکي چي همدااوس يوزاي اهل تشيع تر ۷۳ فرقو زيات دي. شهرستاني، توضيح الملل جلد اول ص ۲۱۶

که څه هم چي د اسلام په دين کي د بدعت يا نويو شيانو ايجادول په قرآن شريف کي، په ښکاره صراحت منع سوي وه:

و ما آتاکم الرسول فخُذوهُ و مانهاکم فانتهوا واتقوالله ان الله شديد العقاب. سورة ۵۹ آية ۷

( څه چي رسول درته وايي هغه وکړی او له هغه څخه پرهېز وکړی چي تاسي منع کوي. له الله څخه وبېرېږی چي په سزا کي له سختی څخه کار اخلي)

خو د مسلمانانو د سياسي او مذهبي مشرانو ترمنځ، ډېر ژر، هم د احاديثو په نقلولو او هم د قرآن شريف د احکامو په تفسيرولو کي اختلافات منځته راغلل. څرنګه چي لومړني احاديث د حضرت رسول اکرم ص له وفات څخه څه باندي ۲۵۰ کاله سينه پر سينه نقلېدلو څخه وروسته را غوند سول؛ او دا وخت يې شمېر ۶۰۰ زرو او حتی يوميليون احاديثو ته رسېدلی وو؛ د دي پورتني شمېر څخه د پنځه سوه ۹۳ زرو احاديثو د ردولو او ليري غورځولو څخه ښکاري چي تر دغه وخته پوري بايد ډېر زيات شمېر احاديث جعل سوي وي. نو طبيعي خبره ده چي په احاديثو کي بايد ډېر زيات اختلافات موجود وای. او د دې ترڅنګ مذهبي مشرانو، پرته له دې چي د موضوع حساسيت ته توجه وکړي، له خپل درک او علميت سره سم، د قرآن شريف د آيتونو تعبيرولو او تفسيرولو ته ملا وتړله. په داسي حال کي چي په دې باره کي هم په قرآن شريف کي ښکاره صراحت سوی وو چي د قرآن شريف له هغو آيتونو سره سم سلوک وکړی چي معنا يې څرګنده ده او په هغو آيتونو پسي ډېر مه ګرځی چي معنا يې چنداني واضح نه ده او دا منافقان دي چي د څرګندو يا محکماتو پر ځای په ناڅرګندو او متشابهاتو پسي ګرځي؛ په داسي حال کي چي د هغوی په تأويل يوازي الله پوهيږي... سورة ۳ آية ۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خو موږ سره له هغه هم ګورو چي مفسرينو هيڅ يو آية بې تفسير او تعبيره نه دی پرې ايښی او هر يوه د خپل علم سره سم اضافه توب پکښی کړی دی او همدغه مختلف تفسيرونه او تعبيرونه دي چي په وروسته کي، په مذهب کي، د بېلو بېلو لارو د منځته راتللو سبب سول او داسي فرقې منځته راغلې چي يوه بل ته يې کافران وويل.
د اسلام د دين د زرهاوو او لس هاوو زرو عالمانو په جمله کي يو هم مولنا جلال الدين رومی دی چي د قرآن په متن کي يې ځانته د انتخاب حق ورکړی دی:

ما ز قـرآن مغـز را بـرداشتيم
پوست را با ديګران بګذاشتيم

هيڅ چا مولنا ته ونه ويل چي قران شريف مقدس او واحد کتاب دی. موږ پر هغه باندي د کل په حيث ايمان لرو. هغه پوست او مغز نه لري بلکه ټول مغز دی. ته څوک يې او تا ته چا دا صلاحيت درکړ چي په قرآن شريف کي مغز انتخاب کړې او پوست يې ليري وغورځوې. دا بيت، چی صريح کفر دی، تر اوسه پوري خلک او د هغه مخلصان زمزمه کوي او که چاته ووايې چي دا خو کفر دی وايی مولنا هغه څه ليدل چي موږ يې نه وينو او نه وربادي پوهيږو. په داسي حال کي چي شريعت ظاهر مني او د شرعي قانون په مقابل کي ټول مسلمانان يو شان مقام لري. کفر د هر چا لپاره کفر دی او د ګناه، شِرک او کفر سزا ټولو مسلمانانو ته په يوه رنګ ورکول کيږي.
د صحيح بخاري د کتاب الفتن له احاديثو څخه څرګنديږي چي، د مسلمانانو ترمنځ د اختلافاتو د منځته راتللو په برخه کي، د حضرت رسول اکرم ص اندېښنه بېځايه نه وه.
حضرت رسول اکرم دې ټکي ته ښه متوجه وو چي که په دين کي لږ تغيير راوستلو ته اجازه ورکړي نو تغييرات به تر قيامته پوري دوام وکړي او هره شېبه به د اختلافاتو د زياتېدلو سبب کيږي. په صحيح بخاري کي راغلي دي:
« موسی بن اسماعيل د ابوعوانه او هغه د مُغيره او هغه د ابی وايل او ابی وايل د عبدالله له قوله وايی چي حضرت رسول ص وويل زه به تر تاسي مخکي د کوثر پر حوض باندي ولاړ يم او ستاسي له جملې څخه به ځيني کسان راته راوستل سي او کله چي زه غواړم هغوی ته د کوثر اوبه ورکړم دوی به زما څخه په زور ليري کړل سي. زه به ږغ کړم چي اې زما خدايه زما ملګري! او خدای تعالی به راته ووايی چي ته نه يې خبر دوی ستا څخه وروسته څه وکړل. دوی ستاڅخه وروسته په هغه دين کي چي تا ورته پرې ايښی وو نوي شيان را منځته کړل» صحيح بخاری، کتاب الفتن حديث ۷۰۴۹
د همدغه کتاب ۷۰۵۱ حديث وايی « کله چي دغه کسان ماته را وښودل سي چي زما په دين کي يې تغيير راوستلی دی نو زه به ږغ کړم چي ليري سی! ليري سی! زما څخه چي زما په دين کي مو تغيير راوستلی دی»
عمرفاروق، د خپل خلافت په دوهم يا دريم کال، د تراويح د لمانځه په ايجادولو سره، څرګند بدعت وکړ او پخپله يې وويل چي بدعت دی مګر ښه بدعت دی.
« ابن شهاب د عرُوة بن الزبير او هغه د عبدالرحمن بن عبدالقاري له قوله وايي چي زه د روژې په مياشت کي يوه شپه له عمر بن الخطاب سره د مسجد خواته ووتلم. کله چي مسجد ته ولاړو هلته مو وليدل چي خلک دلته هلته پرلمانځه ولاړ ول. چا يوازي لمونځ کاوه او چا له يوې کوچنۍ ډلي سره لمونځ کاوه. عمر وويل زما په عقيده دا خلک بايد د يوه قاري شاته ودريږي. نو ده فيصله وکړه او اُبی ين کعب ته يې وويل چي مخکي سه او جماعت ورکړه. زه بله شپه له عمر سره مسجد ته ولاړم او هلته مو وليدل چي خلک د يوه قاري ترشا ولاړ دي او لمونځ په جماعت کوي. عمر چي خلک وليدل نو وې ويل چي وه! څه ښه بدعت دی...» صحيح البخاري، کتاب صلاةالتراويح حديث ۲۰۱۰
که څه هم چي په وروسته کي اسلامي علماوو د «بدعت سيهء» يا بد بدعت او «بدعت حسنه» يا ښه بدعت نومونه اختراع کړي دي خو حضرت رسول اکرم ص هيڅ وخت د ښه او بد بدعت نوم نه دی ياد کړی بلکه بدعت، يا په ديني احکامو کي د نوي عمل يا امر اختراع يې حرام بللی او هغه چا ته يې، ببله پوښتني، د دوږخ سزا ټاکلې ده چي د ده په دين کي، له ده څخه وروسته، بدعت راولي. سُنی علماوو نه يوازي د تراويح په برخه کي د بدعت موضوع ته اشاره نه ده کړې بلکه تر اوسه پوري يې سنت لمونځ بولي. په داسي حال کي چي همدغه په ظاهره کوچني اختلافات او بدعتونه دي چي په وروسته کي د لويو اختلافاتو او حتی وسله والو جنګونو سبب سوي دي.
په اسلام کي، د قرآن شرسف له صريحو احکامو څخه لومړنی او ښايی تر ټولو څرګنده سرغړونه عثمان بن عفان کړې وي. کله چي ابولوءلوء پر حضرت عمر فاروق باندي د خنجر وارونه وکړل او هغه له هغو ټپونو څخه په شهادت ورسېدی نو د عمرفاروق زوی عبيدالله بن عمر د هغه په عوض کي هرمزان، چي يو ايرانی شهزاده يا اشراف زاده وو او مسلمان سوی هم وو، او د جفينه او د ابولوءلوء لور ووژل او که توره ورڅخه اخيستل سوې نه وای نو ښايی نور کسان يې هم وژلي وای. د علي په شمول ډېرو زياتو صحابه وو له عثمان څخه د عبيدالله بن عمر د قصاص کېدلو غوښتنه وکړه خو عثمان وويل چي پرون يې پلار شهيد سو نن يې زوی يې ووژنو دا به مناسب کار نه وي. په داسي حال کي چي په قرآن شريف کي د قصاص په برخه کي دومره څرګند حکمونه موجود دي چي انکار ورڅخه کېدلای نه سي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يا ايهالذين آمنوا كُتِب عليكم القصاص فى القتلى الحُرُّ بالحُرِّ و العبدِ بالعبد والانثى بالانثى فمن عُفِيَ لهُ من اخيه فاتِّباعٌ بالمعروف و اداءٌ اليه باحسان ذالک تخفيفٌ من ربکم و رحمةٌ فمن اعتدى بعد ذالک فلهُ عذابٌ اليم و لکم فى القصاص حياةٌ يا اولى الباب لعلکم تتقون. سوره بقره آية ۷۸
( اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی پر تاسي باندي د هغو کسانو قصاص اخيستل واجب دي چې وژل سوي وي. د آزاد په مقابل کي آزاد، د غلام په مقابل کي غلام او د ښځي په مقابل کي ښځه. مګر هغه څوک چی د خپل ورور په بدل کي له قصاص څخه تيرېږي نو بايد چې هغه ته دونه پيسي او بدل ورکړه سي چې په دغه مورد کي ښايي. دا ستاسي د رب له خوا يو تخفيف دی او دا د هغه رحم دی. مګر هر هغه څوک چي د قضيې له حل څخه وروسته تېری کوي هغه ته به دردوونکي سزا ورکړه سي.)
خو عثمان بن عفان د قرآن شريف د دومره څرګندو احکامو سره سره هم د هيڅ چا خبره ونه منله او ويل يې چي هرمزان او د هغه ملګري ولي نه لري او پخپله امام د هغو کسانو ولي دی چي بل ولي نه لري؛ او زياته يې کړه چي خدای تعالی ولي ته حق ورکړی دی چی له قصاص څخه تېر سي مګر علي او نورو صحابه وو د عثمان دا فيصله ونه منله او دا حق يې امام ته ورنه کړ چي د چا په ګټه له قصاص څخه تېر سي. آشوب بزرګ ص ص ۳۰۱-۳۰۲
عثمان بن عفان سياسي عمل وکړ. هغه نه غوښتل چي خپل خلافت د داسي چا په وينو تويولو پيل او لړزانه کړي چي هغه د عمرفاروق په څېر يوه محبوب، عادل او غښتلي خليفه زوی وي. په داسي حال کی چي د هغه د تکفين او تطهير مراسم لا سرته نه وي رسېدلي او دی د هغوی په کور کي د فاتحې بله کمبله هواره کړي. دا به، په سياسي لحاظ، د عثمان بن عفان لپاره يو هوښيار او پرځای عمل وو مګر د قرآن شريف له داسي څرګندو احکامو او آيتونو څخه سرغړونه وه چی هيڅ ډول پلمه ورته جوړېدلای نه سوای.
..... تِلکَ حدودالله فلا تعتدوها و من يتعَدَّ حُدودالله فأُو لاءِک هم الظالمون. البقرة اية ۲۲۹
( دغه د الله حدود دي، له هغوی څخه تېری مه کوی او هر څوک چي د الله له حدودو څخه تېری کوي هغوی ظالمان دي)
که څه هم چي دا آية مبارک په مشخصه توګه د طلاق په مسله کي نازل سوی دی خو وروستی حکم يې عام دی او هغه کسان يې ظالمان بللي دي چي د الله له حدودو څخه تېری کوي. د الله له حدودو څخه د تېري او له هغو څخه د سرغړوني په برخه کي هيڅ ډول استثنی نه منل کيږي. دا حدود مقدس دي او ټول مسلمانان يې، په يوه شان، په رعايت کولو مکلف دي.
حضرت رسول اکرم ص دغه راز د مسلمانانو ترمنځ د جنګ کولو پر ضد ډېر سخت خبرداری ورکاوه او ويل به يې چي هر څوک زموږ پر ضد توري ته لاس کوي هغه زموږ له ډلي څخه نه دی. هغه کتاب احاديث ۷۰۷۰-۷۰۷۱
وروسته يې حتی يوه بل ته د ښکنځلو کولو په مقابل کي، چي بالاخره د جنګ سبب کيږي، همدغه ډول سخته اشاره کړي او ويلي يې دي چي مسلمان ته ښکنځل کول ګناه او له هغه سره جنګ کول کفر دی. سِباب المسلِمِ فسوقٌ و قِتالهُ کُفر. هغه کتاب، حديث ۷۰۷۶
حضرت رسول اکرم ص د حجة الوداع په خطبه کي وويل: زما څخه وروسته مه کافران کيږی چي د يوه بل غاړي به غوڅوی. هغه کتاب حديث ۷۰۸۰
حضرت رسول اکرم ص د مسلمانانو ترمنځ د داخلي جنګ له پيل کېدلو( فتنة) څخه انديښنه درلوده او مسلمانانو ته يې توصيه کوله چي که چيري فتنة پيل کيږي نو بهتره به داوي چي څوک برخه پکښی وانه خلي. ده توصيه کوله چي د فتنې په وخت کي ناست سړی تر ولاړ ښه دی. ولاړ تر روان ښه دی او روان تر هغه چا چي د فتنې خواته ځغلي بهتر دی. څوک چي په فتنة کي برخه اخلي خپل ځانونه تباه کوي. بهتره دا ده چي هر څوک ځانونه له فتنو څخه وساتي او د فتنې په وخت کي يوې ګوښې ته ولاړ سي. هغه کتاب حديث ۷۰۸۱
کله چي د عايشي او علی ترمنځ د جمل جنګ پيل سو او وروسته د علي او معاويه ترمنځ د صفين جنګونه ونښتل نو پرهېزګارو کسانو، د حضرت رسول ص له توصيې سره سم، ځانونه له فتنې څخه وژغورل او برخه يې پکښی وانه خيسته.
« د أسامه بن زيد آزاد کړی غلام حرمله وايی زه أسامه بن زيد علي رض ته کوفې ته واستولم او راته وې ويل چي که علی پوښتنه درڅخه وکړه چي أسامه ولي زما سره ملګری نه سو نو ته به ورته ووايې چي که ته( علي) د زمري په خوله کي وای ما به د زمري څخه ژغورلی وای مګر په دغه موضوع کي برخه نه سم اخيستلای. حرمله وايی علی ماته هيڅ شی رانه کړل. زه حسن، حسين او ابن جعفر ته ورغلم او هغوی مي اوښ په شته منيو را بار کړ. هغه کتاب حديث ۷۱۱۰
أسامه بن زيد، د حضرت رسول اکرم ص د هدايت سره سم، نه د جمل او نه د صفين په جنګونو کي برخه واخيستله. ځکه چي د جګړې په هره خوا کي ډيرو لويو صحابه وو او مسلمانانو برخه درلوده. البته عايشي، علی او معاويه تر هغه وخته پوری چي کولای يې سوای جنګونو ته دوام ورکړ او د يوه بل په لښکرو يې توري سرې کړې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د صحیح مسلم په کتاب الفتن کي هم دغه ډول یا دغه ته ورته احکام راغلي دي. « احنف بن قیس وایی زه له کوره ووتلم چي ولاړ سم او له علي سره په جنګ کی مرسته وکړم. ابوبکره مخي ته راغی ویل یې چیري ځې؟ ما ویل ځم چي د الله د پیغمبرص د کاکا له زوی سره مرسته وکړم. ابوبکره راته وویل بیرته کورته ولاړ سه ځکه چي ما د حضرت رسول اکرم څخه اورېدلي دي چي که دوه مسلمانان پر یوه بل باندي توري را وباسي نو قاتل او مقتول دواړه دوږخ ته ځي. موږ سوال ورڅخه وکړ چي قاتل باید دوږخ ته ولاړ سي؛ مقتول ولي دوږخ ته ځي؟ حضرت رسول ص راته وویل چي مقتول هم د مقابل طرف د وژلو نیت درلود» مسلم کتاب الفتن حدیث ۲۸۸۸
« له ثوبان څخه نقل سوی دی چي وایی پیغمبرص وویل الله د مځکي یوه او بله برخه داسي سره نیژدې کړه چي ما شرق او غرب دواړه ولیدل. او زما د امت قلمرو به له شرقه تر غربه ورسیږي. ما له خپل خالق څخه وغوښتل زما امت به نه له لوږي تباه کیږي او نه یې بهرنی دښمن تباه کوي چي د دوی ښاخونه او ریښي به له منځه وړي. حق تعالی راته وویل اې محمده! زه چي کله فیصله وکړم نو بیا یې هیڅوک بدلولای نه سي. زه به ستا سره وعده وکړم چي ستا امت به له قحطی څخه نه تباه کیږي. او چي د نړۍ ټول انسانان لاسونه ورته یو کړي دوی به له منځه نه سي وړلای. مګر ستا امت به پخپلو منځونو کي یو بل سره وژني او یو بل به بندیانوي او په دغه توګه به ځانونه تباه کړي» هغه کتاب ۲۸۸۹
حضرت رسول ص نه یوازي د مسلمانانو تر منځ د وسله والو جنګونو غندنه کوله او حتی له مسلمان سره جنګ یې کفر باله او قاتل او مقتول دواړه یې د دوږخ د عذاب لایق بلل بلکه د قرآن شریف د آیتونو په حکم یې د مومن قاتل ته د ابدي دوږخ وعده ورکوله؛ خو د هغه مبارک له وفات څخه ایله پنځه ویشت کاله تېر سوي ول چي مسلمانانو یو پر بل داسی توري را وایستلي چي، د معتبرو تاریخي منابعو په قول، شاوخوا اتیا زره تنه مسلمانان پکښې قتل سول.
په زړه پوري خبره خو دا ده چي له عایشي، علی او معاویه، دریو واړو سره، معتبر او مشهورصحابه شامل ول؛ چي ، د موءمنانو سره د جنګ کولو او د هغوی د قتلولو په برخه کي، یقیناً هم د قرآن احکام ورته څرګند او د حضرت رسول ص توصیي ورته په یاد وې. په دې جنګونو کي سعد بن ابی وقاص، عبدالرحمن بن عوف، عبدالله بن عمر، ابوبکره او ځینو پرهېزګارو صحابه وو تر پایه برخه وانه خیستله. د دې ترڅنګ لا خوارجو له علي او معاویه دواړو سره په جنګ کولو بناء وکړه او دوی دواړه یې د حق متعال له لاري څخه بې لاري سوي وبلل او د هغوی په صفوفو او رهبري کي هم صحابه وو برخه درلوده.
اسلامي مورخینو او علماوو، له هغې زماني تر اوسه پوري، دا جرأت نه دی کړی چي تر هر څه لومړی ام المونین عایشه محکومه کړي چي په کوم حق یې د علي په مقابل کي خپل طرفداران د جنګ میدان ته وایستل او په نتیجه کي د زیات وکم پنځه لسو زرو مسلمانانو، چي باید د کفارو سره په جنګونو کي وژل سوي یا غازیان سوي وای، د قتلېدلو سبب سوه او د جمل په جنګ کي له ماتي خوړلو څخه وروسته په کور کي کښېنستله.
د علي او معاویه تر منځ د صفین په څلور میاشتنیو جنګونو کي تقریباً ۷۰ زره تنه مسلمانان ووژل سول. طبیعي خبره ده چي د جنګ په میدانونو کي ماشومان او سپین ږیري نه بلکه ځوانان وژل کیږي؛ او له دې دومره لوی قوت څخه، د اسلام او کلمة الله په اعتلاء کي څومره ګټه اخیستل کېدلای سوای. د دې دومره انسانانو د قتلېدلو مسوول څوک وو؟ له بده مرغه چي زموږ اسلامي مورخین او علماء تر اوسه پوري چوپ دي او یوازي د هغو جنګونو په کیسو کولو بسیا دي.
شیعه علماء، د دې جنګونو له لومړۍ ورځې بیا تر نن پوري، یوازي معاویه غندي او حتی کافر یې بولي. د هغوی لپاره علي له ټولو ګناهونو پاک دی او د صفین د جنګونو او له هغه څخه وروسته جنګونو ټول مسوولیت د معاویه او عمرو بن عاص پر غاړه دی. په داسي حال کي چي عایشه، علي او معاویه ټول د هغو جنګونو او په لس هاوو زرو مسلمانانو د قتلېدلو مسوولین دي. ټولو ته دا حقیقت څرګند وو چي د یوه مسلمان قصدي قتل د دایمي دوږخ سزا لري او پر قاتل باندي د حق متعال لعنت اوري نو د لس هاوو زرو مسلمانانو د قتلېدلو مسوولین څرنګه له مسوولیت څخه خلاصېدلای سي. د مسلمانانو تر منځ، په دې جنګونو کي چي هر چا توره را ایستلې ده هغه د حضرت رسول ص په حکم د دوږخ لایق دی.
عایشه، علي او معاویه او له هغوی سره ملګري صحابه او مشران ټول د سیاسي او شخصي اغراضو لپاره جنګېدل. هغوی هیڅ داسي دلیل نه درلود چي د هغه په اساس دي مسلمان د مسلمان په مقابل کي وجنګوي. بده خو لا دا چي خوارجو، علي او معاویه ټولو د یوه بل په مقابل کي جهاد اعلان کړی وو او هر یوه خپلو طرفدارانو ته د دایمي جنت وعدې ورکولې. اسلامی مورخینو او علماوو دې جنګونو ته فقط لومړۍ فتنه ویلې ده او بس. ګواکي عایشي، علي او معاویه د مسلمانانو د جنګولو او قتلولو حق درلود او د قتل په مقابل کي د دوږخ سزا یوازي عادي مسلمانانو ته ورکوله کیږي.
سعد بن ابی وقاص او عبدالرحمن بن عوف، چي په شپږ کسیزه شورا کي یې د عثمان د خلیفه کېدلو طر فداري کړې وه، د عثمان د وینو د کسات اخیستلو په جنګونو کي له سره برخه وانه خیستله او د هیڅ چا په طرفداري ونه درېدل. طلحه او زبیر، چي په هغه شورا کي یې د علي د خلیفه کېدلو طرفداري کړې وه، عثمان بن عفان د خپل قدرت په زمانه کي، دومره نازولي ول او دومره شته مني یې ورکړې چي دواړه د علي په مخالفت، د جمل په جنګ کي، د عایشي تر څنګ ودرېدل او دواړه ووژل سول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ويل کيږي چي طلحه د عثمان د خلافت په وخت کي له هغه څخه ۲۰۰ زره درهمه په پور اخيستي ول. کله چي طلحه پيسي پيدا کړي او غوښتل يې چي د عثمان پور ادا کړی هغه ورته وويل چي دا پيسي مي ستا په ځوانمردي کي دربخښلي دي....

د طلحه له وفات څخه وروسته د هغه څخه، د دېرشو ميليونو درهمو په اندازه، هم نغدي پيسي او هم جايدادونه پاته سول. نغدي پيسي يې دوه ميليونه دوه سوه زره درهمه او دوه سوه ز ه ديناره اټکل سوي او باقي پاته اته ويشت ميليونه درهمه يې جايدادونه وه. آشوب بزرګ ص ص ۲۵۵-۲۵۶

په داسي حال کي چي همدغه طلحه څه موده مخکی له خليفه عثمان څخه دوه سوه زره درهمه په پور اخيستي وه.

لومړنۍ فتنه:

اسلامي مورخين او علماء په دې عقيده دي چي لومړنۍ فتنه د عثمان بن عفان له قتلولو سره پيل سوه او د هغي فتني په اثر په اسلام کي داخلي جنګونه منځته راغلل. خو زما په عقيده د لومړنۍ فتني اساس هغه وخت پيل سو چي عثمان بن عفان، په څرګنده توګه، د قرآن شريف احکام د سياسي ملحوظاتو قرباني کړل او، علي بن ابی طالب او نورو لويو صحابه وو د اعتراضونو سره سره يې، د عمرفاروق زوی عبيدالله بن عمر له قصاص څخه معاف کړ.

دا چي د عثمان بن عفان د خلافت او قدرت په زمانه کي ولي چا څه ونه ويل سړی دونه ويلای سي چي د خليفه په مقابل کي خوله پرانيستل څه آسانه کار نه وو. عثمان بن عفان، په هغه اندازه چي پر خپلو خپلوانو او قوميانو باندي مهربانه وو، له مخالفينو سره يې په هغه اندازه سخت سلوک کاوه. مشهور صحابی ابوذر غفاري يې، چي د عثمان او د هغه د حکامو پر اداري کمزوريو باندی يې انتقادونه کول د ربذه ښار ته تبعيد کړ او په داسی غربت کي هلته وفات سو چي مېرمني يې د تکفين او تدفين خرڅ نه درلود. آشوب بزرګ ص ۲۸۲

دغه راز يې يو بل مشهور صحابی عمارياسر، چي له علي بن ابی طالب سره يو ځای يې، د عثمان پر مالي اجرآتو او د بيت المال له پيسو څخه پر غلطه استفاده باندي انتقادونه کول، په عام مجلس کي دونه وواهه چي د لاس او پښو له حرکته يې واچاوه. هغه کتاب ص ۲۸۷

البته د عثمان بن عفان له وفات څخه تر اوسه پوري هم چا دې خبري ته اشاره نه ده کړې چي هغه، له قصاص څخه، د عبيدالله بن عمر په معافولو سره د قرآن شريف له څرګند حکم څخه سرغړونه وکړه او مستقيماً د کفر مرتکب سو:

وَمَن لم يحکُم بما انزل الله فأُولآءِک هُم الکفرون. سورة ۵ اية ۴۴

(او څوک چي د الله د نازل سوي هدايت سره سم حکم نه کوي هغوی کافران دي)

په ورپسي آية کي نور هم صراحت سوی دی:

و کتبنا عليهم فيها أَنَّ النفسَ بالنفسِ والعينَ بالعينِ والانفَ بالانفِ والأُذنَ بالأُذنِ والسِّن بالسِّنِ والجُرُوحَ قصاصٌ فمن تصدَّقَ بِهِ فهُوَ کفّارةٌ لهُ و من لم يحکم بمآانزل الله فأُولأءِک هم الظلمون. سوره۵ آية ۴۵

( مورږ پر دوی باندی واجب وګرځول چي د قتل په بدل کي قتل، د سترګي په مقابل کي سترګه، د پزي په بدل کي سترګه، د غوږ په بدل کي غوږ، د غاښ په بدل کي غاښ او د ټپ په بدل کي په هغه اندازه ټپ د قصاص په توګه واخيستل سي. خو که څوک تر خپل حق تيريږي نو دا د هغه سړي لپاره کفارة ده. او څوک چي د الله له نازل سوي حکم سره سم عمل نه کوي هغه ظالمان دي.)

او د همدغه سورة په ۴۷ آية کي راغلي دي چي هر څوک چي د الله له نازل سوي هدايت سره سم قضاوت نه کوي هغه ګناه کاران دي.

عثمان بن عفان د وژل سويو دريو کسانو له خپلوانو، وارثينو يا اولياوو څخه هيڅ پوښتنه ونه کړه او حتی دا يې معلومه نه کړه چي هغوی وارثين او اولياء لري کنه. پخپله يې ځان د مقتولينو ولي اعلان کړ او قصاص يې وباخښه. دا عمل به په سياسي لحاظ ښايی صحيح وو خو په شرعي لحاظ د قرآن شريف له څرګندو احکامو څخه ښکاره سرغړونه وه. ځکه بايد د عثمان بن عفان دې عمل ته لومړنۍ فتنه يا لږترلږه د لومړنۍ فتني اساس وويل سي. فتنه يې خکه بولو چي کله د اسلام يو خليفه د قرآن شريف له څرګندو احکامو څخه سرغړونه وکړي بيا نو هر څوک د دغه راز يوه کار جرأت پيدا کوي او د خليفه د عمل دغه ډول سابقه، په عقايدو او اعمالو کي، د راتلونکو اختلافاتو سبب کيږي.

اسلامي مورخينو او علماوو نه په هغه وخت کي څه وويل او نه يې بيا تر اوسه پوری په دې باره کي څرګند نظر ورکړی دی. په داسي حال کی چي دا د هغوی فريضه وه چي بايد دا موضوع يې روښانه کړې وای. تر هغه ځايه چي زه معلومات لرم، د آشوب بزرګ ليکوال علامه طه حسين ښايی يوازنی، يا لږترلږه لومړنی، سني مسلمان وي چي د عثمان بن عفان په خلافت کي يې د پراخ اداري فساد، نالايقو او غيرمستحقو خپلوانو ته د لويو چوکيو د سپارلو او له مخالفينو سره د خليفه د سخت سلوک په باره کي ليکنه کړې وي. البته علامه طه حسين هم د پورتني آية مبارک په رڼا کي د عثمان بن عفان د عمل په باره کي چوپ دی؛ ځکه چي د دې موضوع ځېړل حساسيت را پاروي. کنه نو عثمان، د عبيدالله بن عمر په معافولو سره، د هغه قرآن کريم له صريحو احکامو څخه سرغړونه کړې وه چي ده يې پخپله د را ټولولو او جمع کولو افتخار دلود. يعني بايد چي تر ټولو نورو کسانو يې په احکامو او نواهيو بهتر خبر وو. خو د سياسي ملحوظاتو او خپل شخصي قدرت لپاره يې د قرآن کريم پر احکامو سترګي پټي کړې وې.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

عبدالله بن سعد بن ابی سرح او نور:
عبدالله بن ابی سرح د حضرت رسول اکرم ص له ډیرو نیژدې او تکړه کاتبانو څخه وو. هغه په مدینه او اسلام کې له څه مودې تېرولو څخه وروسته بیرته مکې ته ولاړ د مکې له کفارو سره یو ځای سو. د مکې تر فتحې پورې یې د اسلام او په تېره د حضرت رسول اکرم ص پر ضد تبلیغات وکړل او شعرونه یې ولیکل او تل به یې ویل چې زه هم کولای سم د قرآن په څېر یو کتاب ولیکم؛ اوحضرت رسول اکرم ص یې دونه زهیر او وکړاوه چې د مکې د فتحې په ورځ یې د عبدالله بن ابی سرح وینې، د نورو نهو تنو سره یو ځای، مباح کړې. عبدالله بن ابی سرح د عثمان بن عفان رضاعی ورور وو او ځکه یې د عثمان کورته پناه یوړه. حضرت عثمان هغه په خپله چینه کې ورسره پیچلی د حضرت رسول اکرم ص حضور ته را ووست او هغه د شهادت کلمه وویله. خو حضرت رسول اکرم مخ ورڅخه اړولی وو. ټول پوهېدل چې حضرت رسول اکرم هغه ته یوازې د عثمان بن عفان له خاطره څه نه وه ویلي او وژلی یې نه وو.
د ابوبکر او عمر د قدرت په زمانه کې عبدالله بن ابی سرح ته په حکومتي ادارو کې هیڅ ځای ورنه کړه سو. یوازې دوی نه بلکه ټول مسلمانان یوهېدل چې له هغه څخه د پیغمبرص څونه نفرت کېدی. خو کله چې نوبت عثمان بن عفان ته ورسېدی نو عبدالله بن ابی سرح یې دونه ونازاوه چې نور یې حد نه درلود. عبدالله بن ابی سرح یې د اسلام د قلمرو په یوه له تر ټولو مهم او ستراتیژیک مرکز مصر کې، د عمرو بن عاص پر ځای، چې هم یو لایق او هوښیار جنرال او هم خلک ورڅخه راضي ول، د والي په حیث، مقرر کړ. البته څه موده وروسته، د مصر د خلکو پرله پسې شکایتونو عثمان مجبور کړ چې هغه له مصر څخه بیرته را وغواړي او چارې بل چاته وسپارې. آشوب بزرگ ص ۲۱۳
حکم بن العاص د عثمان بن عفان کاکاوو. هغه د جاهلیت په دوران کې حضرت پیغبرص ته بې اندازې زیات آزار ورکړی وو او کله چې مسلمان سو نو هم یې د پیغمبرص له آزار او حتی توهین څخه لاس وانه خیست. پیغمبرص وویل چې ابن العاص هیڅ وخت زموږ سره په مدینه کې ژوند نه سي کولای. پیغمبرهغه له مدینې څخه تبعید کړ. عثمان بن عفان څو ځله د هغه شفاعت وکړ مګر ګټه یې ونه کړه. عثمان هم د ابوبکر او هم د عمر د خلافت په دوران کې کوښښ وکړ چې بن العاص بیرته مدینې ته راولي. عمر بالاخره عثمان ته وویل چې هیڅ وخت بیا دا مسله ورته یاده نه کړي.
مګر د عمر له قتلېدلو او د عثمان له خلیفه کېدلو سره هر څه پر بل مخ واوښتله او عثمان بن عفان حکم بن العاص مدینې ته راووست. عثمان ویل چې زما سره پیغمبرص وعده کړې وه چې بن العاص ته به بیرته په مدینه کې د ژوند کولو اجازه ورکړي خو حضرت پیغمبر وفات سو او د ا مسله همداسې پاته سوه. اوس چې دی امام دی دا صلاحیت لري چې چاته په مدینه کې د ژوند کولو اجازه ورکړي. په داسې حال کې چې ابوبکر او عمر د ده خبره ځکه نه وه منلې چې یوازې د یوه سړي قول وو او د حضرت پیغمبر ص د وینا او قول بل شاهد یې نه درلود. عثمان بن عفان نه یوازې حکم بن العاص ته په مدنیه کې د اوسېدلو اجازه ورکړه بلکه د هغه زامنو ته یې ډېرې مهمې وظیفې وسپارلې. هغه کتاب ص ص ۳۱۳-۳۱۵
موږ ګورو چې علی د خوارجو سره د جنګېدلو او د هغوی د وژلو په برخه کې او عثمان، مدینې ته د خپل کاکا د راوستلوپه برخه کې، د حضرت پیغمبر ص پر قول حواله ورکوله خو له دواړو سره هیڅ ډول شاهد موجود نه وو او صحابه وو یې قول ته د شک په سترګه کتل. په حقیقت کې دغه ډول نقل قولونه وه چې د احادیثو جعل کېدلو ته یې لاره پرانیستله او په وروسته کې د ډیرو لویو جنجالونو سبب سول.
د عثمان د دوولس کلن خلافت په وروستیو کلونو کې د هغه د مامورینو د اداري فساد او ظلم پرضد خلک را وپاڅېدل. د بصرې ، کوفې او مصر خلک، د حج په پلمه، د مدینې خواته روان سول او کله چې ښار ته ورسېدل د عثمان دربار ته یې خپل شکایتونه ولېږل. که څه هم چې سړی نه سی ویلای چې د علي، طلحه بن عبیدالله او زبیر بن عوام په څېر مهمو صحابه وو به د عثمان پر ضد په لمسونو کې مستقیم رول درلودلی وي خو په ټولو تاریخونو کې، د دغې فتنې په باب، د هغوی نومونه یادیږي. یعني که یې لمسوني کړي نه وي نو د لمسونو او خلکو د کرارولو په برخه کې یې هم چنداني کوښښ نه دی کړی. ځکه چې مدینې ته لومړنیو رسېدلو خلکو، په هیڅ توګه، د ښورښ او د عثمان د وژلو خیال نه درلود بلکه دا خبره وروسته وروسته خرابه سوه. دا چې مصریان علي ته، بصریان طلحه ته او د کوفې خلک زبیر ته ورغلل؛ د دې معنا دا ده چې دوی په دغو ځایونو کې خپل طرفداران درلودل او هغوی پوهېدل چې چاته ورسي او چاته شکایت وکړي. دریو واړو کسانو د خلکو او ښورښیانو په کرارولو کې چنداني علاقه ونه ښودله او هغوی هم د عثمان کور محاصره کړ. او عثمان له خپلو حاکمانو څخه د مرستې غوښتنه وکړه.
دلته موږ ګورو چې په دې لومړۍ فتنه کې نه یوازې عثمان ملامت دی چې ولې یې پر خلکو باندې فاسد او ظالم حاکمان مقرر کړي او په مقابل کې یې له هغوی څخه د خلکو شکایتونو ته غوږ نه وو نیولی بلکه د هغه پرضد چې یې په ښورښ یا د خلکو په لمسولو کې رول درلودی هغه یا صحابه یا تابعین ول؛ او دا هغه کسان ول چې باید د فتنې په پارولو کې نه بلکه د فتنې په کرارولو کې یې برخه درلودلای.
کله چې خلکو د جمعې په لمانځه کې د عثمان پر طرفدارانو باندې ډبرې و اوروليې او په دې منځ کې پخپله عثمان هم زخمي سو؛ نو علي، طلحه او زبیر د هغه پوښتنې ته ورغلل. مروان، چې د عثمان له خپلوانو او د هغه په څېر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له بن اُميه کورنۍ ځخه وو علي ته وويل چي تا موږ هلاک کړو او دا ټول ستاکارونه دي. په خدای مي دي قسم وي چي که د هغه مطلب د ترلاسه کولو لپاره، چي ستا په زړه کي دی، اقدام وکړې ټوله دنيا خو دي په مقابل کي را پورته سي. علي په غوسه سو او له مجلسه ووت. تاريخ ابن خلدون جلد اول ص ۵۶۷
عثمان د فتنې د کرارولو لپاره له علي څخه مرسته وغوښته او هغه ته يې وويل چي زموږ تر منځ د اسلامي وروری تر څنګ د خپلوۍ اړيکي هم موجود دي او هغه بايد د فتنې په کرارولو کي له خپل وس څخه کارواخلي.
علي ورته وويل چي د خلکو پر غوښتنو او شکايتونو باندي بايد غوږ ونيسي او له خلکو سره وعده وکړې چي د هغوی له غوښتني سره سم به ځيني حاکمان برطرفه کړي فتنه پخپله کراريږي. عثمان له علي سره وعده وکړه خو پر خپله وعده ونه درېدی او خلکو هم د هغه د کور محاصرې ته زور ورکړ. عثمان بالاخره ووژل سو او له دې پېښې سره، چي چا يې انتظار هم نه درلود، ډېر لوی جنګونه پيل سول.

پاته لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ